د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

سه شنبه ۱۷ جمادي الثاني، ۲۰۲۰/۰۲/۱۱م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۶

مطبوعاتي اعلاميه

## موږ واحد امت وو؛ مګر «ملت پالنې» ټوټې کړو

جوبايډن د امريکا د پخواني جمهور رييس بارک اوباما مرستيال او اوسمهال د ډيموکرات حزب له کانديدانو څخه هغه دی چې په يوه خپل منځي حزبي مناظره کې يې ويلي دي: «زه په افغانستان کې د ملت جوړونې سخت مخالف وم. يوازينی کار چې بايد په هغه سيمه کې يې ترسره کړو، له تروريزم سره مبارزه ده ... د دغه هېواد د يووالي هېڅ امکان نشته، هېڅ شونې نه ده چې افغانستان په يوه متحد هېواد باندې بدل شي.»

د حزب التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر دغه خبرې په سختو ټکو غندي او په اړه يې وايي چې د دغه خاورې وګړي د استعماري پروګرامونو او اشغال پر وړاندې همېشه متحد او سره يو وو. حال دا چې دا ملت جوړونه او د ملي فکر پر بنسټ حللارې دي چې له ځان سره د تفرقې او بېلتون پيغام راوړي. جوبايډن داسې مهال دغه فاسده، بې کاره او ورسته مفکوره د يووالي او وحدت د نسخې په توګه ياده کړې چې د دولت-ملت مفکوره د دې لامل شوې چې مسلمانان خپل ډال او عظمت (د خلافت واحد دولت)، له لاسه ورکړي او په ورو او کوچنيو واحدونو باندې ووېشل شي.

په واقعيت کې جوبايډن د هغه حللارې په اړه خبرې کوي چې د توليدوونکو لپاره يې هم ښې پايلې نه دي درلودلې. دا ملت پالنه نه ده چې د امريکا ايالتونو ته يې يووالی ور په برخه کړی، بلکې دا د دښمن جوړولو سياست او له بهرني دښمن نه وېره ده چې امريکا يې سره يوه کړې ده. لکه څنګه چې په دې وروستيو لسيزو کې امريکا، اسلام خپل ولس ته د تهديد په توګه ور وپېژاند او د اسلام پر وړاندې جګړه يې «د تروريزم پر وړاندې د جګړې» تر نوم لاندې پيل کړه، ترڅو ټول ايالتونه يې د مرکزي حکومت پر محور راټول شي؛ پرته له دې به امريکا هم ډېره ژر په تر پنځوسو ډېرو ايالتونو وېشل شوې وای.

غرب کلونه-کلونه د بېلابېلو لارو چارو په واسطه هڅه کړې ترڅو موږ کوچني او لا هم ډېر کوچني کړي او د دغه موخې لپاره يې د تجزيې بېلابېل پروګرامونه او نقشې تر کار لاندې نيولې دي. مګر د افغانستان مسلمان وګړي په ټول توان سره دغو پروګرامونو ته نه ويلي او دا ډول ناوړه پلانونه يې شنډ کړي دي.

مسلمانان هېڅ کله هم د هغو حللارو پر محور نه سره راټولېږي چې د اسلام له مبداء (ايډيولوژی) څخه نه وي. له همدې امله ده چې ملي پروژې او د دولت-ملت جوړونه د مسلمانانو ترمنځ ناکامه او پر ماتې محکومه وه. نو يوازينۍ حللاره چې مسلمانانو ته وحدت او عزت وربښي اسلام او د اسلامي امت مفکوره ده. مسلمانان يوازې د واحد امت په تمثيل او د راشده خلافت د دولت په بيا تاسيس سره کولای شي خپل اصلي عظمت او لوړوالي ته وروګرځي.

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**